# د ماسټر عبدالکريم زنداني ادبي خدمات

**Literary Contributions of Master Abdul Karim from behind the bars.**

ډاکټر نورالبصر امن*


## Abstract:

Master Abdul Karim was an active and prominent member of Khudai Khidmatgar Movement. Apart from facing many other warships, he spent many years behind the bars. Master Abdul Karim was gifted by God with an enlighted thinking. This enlightenment in his soul has kept him alive even in the darkness of the prison. He has contributed to the Pashto literature in different ways.From behind the prison bars Master Abdul Karim has written a book "JOLY GULONA" in Pashto prose. In this research paper a critical appreciation of his work has been done.


ماسټر عبدالکريم د پښتو په ادبياتو کښې ځلنده نامه لري اګرچې ماسټر صاحب ډېر تريخ ژوند تېر کړې دی خو د قلم خواږهٔ يې مونږ ته پرېښودې دي چې د خپل قلم نه يې د نوي طرز خوندور نثر زېږولی دی۔ اروابناد ډاکټر اشفاق احمد د ماسټر په حواله ليکي....

"په پښتو ادب کښې د ماسټر عبدالکريم شخصيت يو ځانګړی او لوړ مقام لري. دغه نوم هغه ملغلره ده چې د وخت د ناکړدو او ګردشونو باوجود ئې هم خپل ښائست او ښکلا ساتلې ده. که د وختونو جبر هر څو دغه ملغلره د تيارو تورو کندو ته غورځولې ده، ولې دې لعل د خپلو پلوشو او ځرکو په سبب خپل ځان دنيا ته څرګند کړی دی.ماسټر عبدالکريم د پښتو ادب په ګلشن کښې هغه ګل دی چې د وخت تورو لاسونو، تکليفونو، مصيبتونو او غربت په خپلو پردو کښې د پټولو هر څومره هڅې وکړې، ولې د غه ګلاب د خپل خاصيت په سبب خپله خوشبو د دغه تمامو پردو نه رابهر کړه. او جهان ته ئې د خپل موجوديت احساس ژوندی اوساتلو.ماسټر صاحب د دنيا په مخ ډېر لنډ تنګ ژوند تېر کړی دی. ولې دغه مختصر ژوند ئې ډېر تود او ګرندی ؤ"(1)

د ماسټر صاحب د ژوند په حقله ښاغلی همېش خليل صاحب خپل بيان داسې کوي.

"د پښتو ژبې دا نامتو ليکوال د پښتون قوم قابل فخر مشر د وطن د ازادۍ لوی مبارز د هشنغر په تاريخي کلي اتمانزو کښې د منتظر خان کره په کال ۱۹۰۸ء کښې پېدا شوی دی. ابتدائي تعليم يې د اتمانزو په ازاد هائي سکول کښې تر سره کړی دی. د وړاندې تعليم دپاره په ۱۹۳۰ء کښې جامعه مليه

* Assistant Professor, Department of Pashto & Oriental Languages, University of Malakand

دهلي ته لاړ دی. او د بي اې کولو نه پس واپس وطن ته راغی. او د اتمانزو په ازاد هائي سکول کښې استاد شو ادبي روزنه او سیاسي تربیت یې په خدائي خدمتګار تحریک کښې شوی دی"(2).

همېش خلیل صاحب او دغه شان نورو لیکوال د ماسټر صاحب د زېږېدو کال ۱۹۰۸ء ښودلی دی چې صحیح نۀ دی. د اشفاق احمد د تحقیق مطابق چې د ماسټر صاحب د تعلیمي اسنادو او رېکارډ نه کومه نېټه تر لاسه شوې ده د هغې مطابق:

"ماسټر عبدالکریم صاحب هشنغر کښې د اتمانزو کلي صنم ګړهی محلت کښې په ۷ دسمبر ۱۹۰۷ء خپلې سترګې د منتظر خان په کور کښې پرانستې دي. د سکول د داخل خارج د رېکارډ مطابق ماسټر عبدالکریم په ختهه آوان (اعوان) دی"(3).

په پښتنو کښې ډېر داسې خلق راغلي دي چې هغه یا خو د بل قوم دي خو داسې پښتانۀ وي چې د اصل پښتنو نه یې کردار او ګفتار ښۀ وي او یا وصلي پښتانۀ وي خو په پښتنو کښې د هغوی دومره وخت شوې وي چې بیا یې هیڅ پته نۀ لګي چې دا پښتون دی که غېر پښتون، دغه شان اګرچې ماسټر عبدالکریم په ختهه اوان (اعوان) ؤ خو کردار او خدمات یې د ډېرو ښه پښتنو نه هم اوچت و او د ټولو نه اهمه خبره داده چې خدائي خدمتګار ؤ او په ازاد سکول کښې ئې بې پېسو او بې تنخوا ماسټري کوله. په پښتو ادب کښې هم د ماسټر صاحب خدمات د هېرولو نۀ دي.

ماسټر صاحب ابتدائي دیني تعلیم په خپل کور کښې د خپلې مور بي بي نۀ حاصل کړو چې هغه یوه دینداره او پاکه ښځه وه. عصري تعلیم یې څۀ په دې ډول کړی ؤ.

"ماسټر عبدالکریم صاحب د ۱۹۲۴ء خواؤ شا کښې لسم پاس کړی ؤ او په ۱۹۲۵ء کښې د اعلی تعلیم حصول دپاره په جامعه ملیه اسلامیه دهلي کښې داخل ؤ، بله خبره دا ده چې د ماسټر صاحب په ډګری کومه چې هغۀ د جامعه ملیه اسلامیه دهلي نه ئې تر لاسه کړې ده. په هغې کښې هم دا درج دي چې ماسټر صاحب د ۲۲ کالو په عمر کښې د بي اې امتحان په اپرېل ۱۹۳۰ء کښې پاس کړی دی"(4).

۲۳ اپریل ۱۹۳۰ ء د پښتونخوا په تاریخ کښې د یوې خونړۍ ورځې په نوم یادیږي ځکه چې په دې ورځ د انګریز ګورا فوځ په مظلومو بې وسه او خالي لاس هغه مظلومانو باندې ګولۍ ورولې وې چې هغوی د خپلو ورونړو سره چې بې ګناه نېولې شوې وو تانې ته راغلې وو. د دې خلقو احتجاج د خپل وطن او خاورې د ازادۍ د پاره ؤ خو انګرېزانو هیڅ ته هم وۀ نۀ کتل او نۀ صرف په کوتکو یې ووهل بلکې په ټوپکو او ټېنکونو یې ورله سینې هم سورۍ کړې. دې واقعه نۀ صرف په هندوستان کښې بلکې په ټوله پښتونخوا کښې یې اور وکړو. د دې واقعې خلاف په خلقو کښې ډېر د غم او غصې څرګندونه وشوه د حکومت خلاف جلسې جلوسونه او احتجاجونه شروع شو. ماسټر صاحب هم په دغه احتجاج کښې ښۀ په نرا شرکت کړی ؤ. په دې وجه دۀ پسې هم ورنټ وتلی ؤ او په اول ځل د بغاوت په الزام کښې ګرفتار شو.

"په ۲۵ دسمبر ۱۹۳۱ء د شپې په ټوله صوبه کښې د خدائي خدمتګارانو عامې ګرفتارۍ اوشوې. باچا خان خو ئې څو ورځې وړاندې ګرفتار کړی ؤ. په دغه شپه به ئې چې څوک نیول، نو نېغ به ئې د هري پور جېل کښې وردننه کول. په دغه ورځو کښې د هري پور جېل نوی نوی د جوړېدو په حال کښې، نو دا جېل حکومت په خدائي خدمتګارو قېديانو باندې سر ته ورسولو. ماسټر عبدالکریم هم په ۲۵ دسمبر ۱۹۳۱ء د شپې ګرفتار کړی شو. او د شپې په توره تیارهٔ کښې ئې هري پور جېل ته اورسولو. دا د ماسټر صاحب وړومبۍ ګرفتاري وه. چې د ازادۍ د تحریک په دوران کښې ئې اوشوه. او د هري پور جېل کښې پرې هغه ناروا کارونه اوکړی شول کوم چې د یو سیاسي قیدي دپاره نهٔ وي کول پکار"(5).

ماسټر صاحب د یو حساس ذهن خاوند ؤ. د وطن مینه او د پېرنګي نفرت یې په زړهٔ کښې موجونه وهل او هم د ازادۍ او بغاوت په دغې تور کښې د ازادۍ د پتنګانو سره:

"ماسټر عبدالکریم هم په ۲۵ دسمبر ۱۹۳۱ء د شپې ګرفتار کړی شو او د شپې په توره تیارهٔ کښې یې هري پور جېل ته اورسولو. دا د ماسټر صاحب وړومبۍ ګرفتاري وه"(6).

دماسټر صاحب روزنه هم د خدائي خدمتګارو په مکتب کښې شوې وه. په دې وجه د انګرېز یوې سختۍ هم دغه حوصلې کمزورې نهٔ کړې. هم دغه وجه وه چې حکومت به د ماسټر صاحب سخته سارنه کوله. کله چې دوېم عالمي جنګ شروع شو نو په دغه ورځو کښې ماسټر صاحب په پښتون رساله کښې د "نتۍ دنیا" د سر خط لاندې مضمون لیکلو. په دغه مضمون کښې به د جنګ بحث اود پېرنګي خلاف په ازادۍ سره تبصره کېدله. چې د ماسټر صاحب دغه حرکت پېرنګي خپله ګستاخي اوګڼله او ماسټر صاحب یې ګرفتار کړو.

"د دې دور په "پښتون" کښې به د ماسټر عبدالکریم یو خاص مضمون چاپ کېدو. چې د هغې عنوان به ؤ "نتۍ دنیا". په دې مضمون کښې به د جنګ په حالاتو ډېره ازاده تبصره کېده. او ازاد خیالو خلقو به ډېره خوښوله. چرته یو ورځ یو څو سفېد پوش ناست ؤ ګپ شپ یې لګولې ؤ چې په هغې کښې د سي آئي ډي یو هندو انسپکټر هم ؤ. یو پکښې اووې چې خلق وائي چې انګرېزي حکومت په پرېس پابندي لګولې ده. زهٔ وایم چې تاسو د "پښتون" "نتۍ دنیا" مضمون ولولئ چې داسې تنقید به جرمن رېډیو هم ونهٔ کړي. په دې خبره د انسپکټر صاحب غوږونه لک شو. زر یې "پښتون" رااوغوښتو. "نتۍ دنیا" یې اولوسته، زر یې د هغې په انګرېزۍ کښې ترجمه وکړه او ګورنر ته یې ولېږله. وریسې د بلې پرچې د "نتۍ دنیا" ترجمه یې اولېږله. ګورنر غصه شو او زیات حېران په دې شو چې دا اخبار د سکولونو دپاره منظور هم دی. نتیجه دا شوه چې ماسټر عبدالکریم صاحب اونیوی شو. مقدمه پرې اوچلېده په یو مضمون یو کال او په بل مضمون شپږ میاشتې قېد شو"(7).

خلیق صاحب د کال ۱۹۴۰ء په واقعاتو کښې په منظوم شکل کښې د ماسټر صاحب د دې ګرفتارۍ یادونه څهٔ په دې ډول کړې ده:

د دې کال په اخر بيا بند شو پښتون
چې خفه شو حکومت په يو مضمون
دا مضمون ؤ د ماسټر عبدالکريم
چې اديب ؤ د پښتو او هم زعيم
"ننۍ دنيا" مضمون به دۀ ليکلو
د پښتون لوستونکو ډېر به خوښولو
په دې وجه دی بندي شو د زندان
د يو نيم کال د قېد اوشو پرې فرمان"(8)

د ماسټر صاحب د هغې مضمون نمونه داسې ده په کوم چې قېد شوی ؤ:

"اخر خدای د وزيرو، مسعودو او مهمندو زړۀ ته اوکتل د فلسطين د عربو فرياد ايله د خدای په جناب کښې قبول شو. د مظلومانو دعا منظوره شوه. او خاص په لندن ګوله باري شروع شوه. رښتيا چې د مظلوم بدله خدای ظالم ته هېڅرې نۀ پرېږدي. خو خدای سرکش قامونو له مهلت ورکوي. او د هغۀ د صبر د ېګ په واره پخېږي. نن دې د لندن مېندې پخپلو زړونو ګوتې کېږدي. او مشران دې پخپل ايمان اووائي چې د بل خونه ورانول پکار دي کنه؟"(9).

د دې مضمون په وجه چې ماسټر صاحب اونيوی شو نو "پښتون" د هغه د نيولو خبر داسې خور کړو:

"د ازاد هائی سکول اتمانزو وړومبنی هېډ ماسټر، ماسټر عبدالکريم خان صاحب د لسم او يوولسم نومبر ۴۰ء په مېنځنۍ شپه د دفعه ۱۲۴الف تعزيراتِ هند لاندې اونيوی شو"(10).

ماسټر صاحب چې کله د دې مضمون په وجه ګرفتار شو او عبدالخالق خليق ورله جېل ته ملاقات له ورغلی ؤ نو ماسټر صاحب ته يې ووې چې د دې مضمون نه انکار وکړه هغۀ ورته داسې جواب ورکړو۔

"داسې چرته کېدی شي. دا خو به څو کاله قېد وي. که پهانسۍ ته مې اودروي هم به انکار او نۀ کړم"(11).

د دې وړې جملې نه د ماسټرصاحب د قوي ارادې، د قام او خاورې سره مينه،د خدائي خدمتګار تحريک سره وفا ،سپېڅلې مسلمانۍ صفا پته لګي حالاتکې په معمولي انکار نۀ صرف د جېل نه خلاصېدی شو بلکې ډېر مراعات ورته هم مېلاوېدې شو خو د ماسټر صاحب ايمان دومره کمزوری نۀ وو۔

هسې خو په کتابونو کښې د ماسټر عبدالکريم ډېر کتابونه ياد شوي دي خو د هغۀ د ټولو نه اهم اثر چې زمونږ سره موجود دی هغه "څولۍ ګلونه" دی. چې زياته حصه يې په زندان کښې ليکلې شوې ده. د دې کتاب اکثر ليکنې د ازادۍ نه مخکښې ليکلې شوې دي چې وخت په وخت په "پښتون" کښې خپرې شوي دي. د پاکستان د جوړېدو نه پس هم ماسټر صاحب ډېر وخت په قېدوبند کښې تېر کړی دی او ښۀ ګټور زنداني ادب يې تخليق کړی دی.

" (څولۍ ګلونه) د ماسټر صاحب د هغه قصه ګیو او تکلونو ګل غونچه ده چې وخت په وخت یې د ایوب خاني او قیوم خاني زندانونو په تورتمونو کښې یوه یوه راټوکولې او راغونډه کړې ده"(12).

د ماسټر صاحب په دې کتاب "څولۍ ګلونه" کښې "بې بې بله خړې" په ستر جېل هري پور ۱۹۴۴ء کښې، بې ګناه، پېښور جېل، ۱۲ دسمبر ۱۹۵۰ء، په تصور مې ځان باچا کړو، پېښور جېل ۱۹۵۲ء، هېر به دې نۀ شي، پېښور جېل ۱۹۵۲ء، بارانه تښتېده د ناوې لاندې یې شپه شوه، پېښور جېل اګست ۱۹۵۲ء کښې لیکلي شوي دي.

"دا کتاب د ماسټر عبدالکریم صاحب د ژوندي ساتلو ذریعه ده. چې تر اوسه پورې ماسټر صاحب د شاعرانو، ادیبانو او پوهانو په نظرکښې ژوندی دی. دا کتاب د ماسټر صاحب د لیک پوره پوره نمائندګي کوي. دا د ماسټر صاحب د افسانو مجموعه ده. دا کتاب په اول ځل په کال ۱۹۵۷ء کښې چاپ شوی ؤ او اوس په دوېم ځل په کال ۲۰۰۷ء کښې چاپ شو"(13).

د "څولۍ ګلونه" ټرون هم ماسټر صاحب د خپل د جېل یو ملګري جنت شاه په نوم کړی دی چې دغه واقعه خو د ۱۹۴۰ء ده خو لیکلی شوی په ستر جېل پېښور کښې ۱۱ فروري ۱۹۵۷ء کښې ده.

"دا د شلمې پېړۍ څلوېښتم کال (۱۹۴۰ء) ؤ. هغه ورځ شوه او دا ورځ شوه، ما جنت شاه بیا په سترګو ونۀ لیدو، خدای (ج) ښۀ پوهېږي چې مړ به وي که ژوندی. خو د دغه زیړ پښتون په زوړ او رېښمن پټکي کښې د کېښودو دپاره ما دا "څولۍ ګلونه" راوړي دي"(14).

د ماسټر عبدالکریم د دې کتاب د ادبي ارزښت په حقله اشفاق احمد په خپله مقاله کښې لیکي چې:

"دا کتاب د ماسټر عبدالکریم صاحب د ژوندي ساتلو ذریعه ده چې تر اوسه پورې ماسټر صاحب د شاعرانو، ادیبانو او پوهانو په نظر کښې ژوندی دی. دا کتاب د ماسټر صاحب د لیک پوره پوره نمائندګي کوي. دا کتاب په اول ځل په کال ۱۹۵۷ء کښې چاپ شوی ؤ. او اوس په دوېم ځل په کال ۲۰۰۷ء کښې چاپ شو"(15).

ماسټر عبدالکریم په ۱۸ جنورۍ ۱۹۲۱ء کښې د دې دنیا نه کوچ وکړو"(16).

د ماسټر صاحب د مرینې په حواله مختلفو لیکوالو مختلف تاریخونه لیکلي دي خو صحیح تاریخ یې دا دی کوم چې اشفاق وطنیار داسې لیکلې دی۔

"د پښتنو د سیاسي مېدان شهسوار او د پښتو ادب د اسمان دا ځلنده ستوری په ۱۴ مارچ ۱۹۵۸ء کښې د پلورسي بیمارۍ ښکار شو. د پلورسي نه نری رنځ شو. ډېر زیات علاج ئې اوکړو ولې د قسمت لاري څوک بدلولی شي. اخر ماسټر عبدالکریم صاحب په ۱۸ جنوري ۱۹۲۱ء اووۀ نیمې بجې ماښام په لیډي ریډنګ هسپتال پېښور کښې د همېش دپاره د دنیا نه سترګې پټې کړلې. او په ۱۹ جنوري ۱۹۲۱ء ماسپخین درې بجې د ماسټر صاحب جنازه اوشوه. او د زرګونو خلقو د سترګو تر وړاندې باچا خان په خپلو لاسونو په خپله پلارګنۍ ادیره اتمانزو کښې امانت کېښود"(17).

د ماسټر صاحب د قبر په خازه يې دا شعرونه ليکلي دي۔

ای د لارې مسافرو قدم رو کړئ
لږ اوچت کړئ په دعا دواړه لاسونه
ما مظلوم کريم ته لږه دعا اوکړئ
د قامي خدمت شهيد تربنه مړ سونه"(18)

د ښاغلي اجمل خټک"(19) د وېنا مطابق باچا خان ماسټر عبدالکريم ښخ کړې نۀ دی بلکې صرف خاورو ته يې سپارلې دی ځکه چې د هغوی دا ارمان و چې په سردرياب کښې به د قامي شهيدانو ځانله مقبره وي او په هغې کښې به د هغې قامي شهيدانو مزارونه وي چې د پېرنګي خلاف يې د وطن د ازادۍ د پاره نۀ صرف مال و متاع،جائېداد ،کور او اولاد نه لاس وينځلي وو بلکې خپل سرونه يې هم په داو کړي وو۔ د هغې شهېدانوتعداد په زرګونو کښې دی چې يو پکښې ماسټر صاحب هم دی چې په جېلونو کښې يې دومره سختې زغملې وې چې صحت يې ورله خراب کړی ؤ. خو د باچا خان دغه ارمان لا تر وسه نۀ دې پوره شوې په سردرياب کښې د قامي شهيدانو مقبره جوړول خو ډېره غټه خبره ده اوس خو چاته هغه ځای هم نۀ دی معلوم په کوم ځای کښې چې باچا خان د خدائي خدمتګارانو مرکز په سردرياب کښې جوړ کړی ؤ دا ډېره د افسوس خبره ده په دې به نۀ صرف د دې قامي شهيدانو روح بې قراره وي ځکه چې دوی اماناتاً دفن کړی شوي دي بلکې د باچا خان روح به هم نا قراره وي ځکه چې د هغۀ ارمان خو د پښتون ازادي او خپلواکي وه او هغه د هغوی د نۀ ستړي کېدونکو کوششونو باوجود هم حاصله نۀ شوه.

***

# حوالې

(1) اشفاق احمد ، د ماسټر عبدالکریم ژوند او فن، د ایم فل تحقیقي مقاله، پښتو څانګه پېښور پوهنتون ۲۰۰۸ء مخ

(2) عبدالوحید ، پروفیسر ډاکټر، پښتو ادب او خدائي خدمتګار تحریک، د ایم فل تحقیقي مقاله، پښتو څانګه پېښور یونیورسټي مخ ۸۹، ۹۰

(3) اشفاق احمد ، د ماسټر عبدالکریم ژوند او فن، مخ۸

(4) هم دغه اثر مخ ۵

(5) هم دغه اثر، مخ۱۴۵

(6) هم دغه اثر، مخ ۱۴۲ – ۱۴۷

(7) خلیق، عبدالخالق، د ازادۍ جنګ، اداره اشاعت سرحد پېښور ۱۹۷۲ء مخ ۱۴۵

(8) خلیق، عبدالخالق، زۀ او زما زمانه، مخ ۹۲

(9) ماسټر عبدالکریم، نتې دنیا ، مجله پښتون اتمانزۍ (چارسده) ۱۱ ستمبر ۱۹۴۰ء مخ ۱۹

(10)پښتون مجله پېښور "اداره"، ۲۱ نومبر ۱۹۴۰ ء،مخ ۱۲

(11) غنچه، اووۀ ورځنۍ مجله، پېښور ۲۳ جنوري ۱۹۷۰ء مخ ۵

(12) صمیم، محمد آصف، ځولۍ ګلونه بیا وړمین شول، ځولۍ ګلونه د ماسټر عبدالکریم، دانش خپرندویه ټولنه پېښور ۲۰۰۲ء مخ۱

(13) اشفاق احمد ، د ماسټر عبدالکریم ژوند او فن، مخ ۲۸

(14) عبدالکریم، ماسټر، ځولۍ ګلونه، مخ ۲

(15) اشفاق احمد ، د ماسټر عبدالکریم ژوند او فن، مخ ۲۸ ، ۲۹

(16) هم دغه اثر، مخ ۳۲

(17) هم دغه اثر، مخ۳۶

(18) هم دغه اثر، مخ۳۷

(19) اجمل خټک د "کور نه تر ګوره" غنچه اووۀ ورځنۍ مجله، پېښور کریم نمبر، ۲۳ جنوري ۱۹۷۰ء مخ ۷ .